
INTERNATIONAL RESCUE COMMITTEE

# مالي زده کړه
## د خطر نښو پېژندنه



**که د مالي محصولاتو یا خدمتونو د پېرلو په وخت کې له دغو خطر نښو یا د خرڅلاو شکمنو تګلارو سره مخ کېږئ، د کوم سند له لاسلیکولو څخه مخکې بیاځلې فکر وکړئ او ځان ډاډمن کړئ. کچېرې ستاسو په آند کوم څه سم نښکاري یا د خطر نښه ګورئ کولی شئ له پېرولو یا اخیستلو څخه یې ډډه وکړئ.**

| سرې یا د خطر نښې | وضاحت |
|---|---|
| د پېرلو یا اخیستلو په وخت ټنیګار یا فشار راوستل. | تاسو باندې د داسې پور یا توکو د اخیستلو لپاره ټنیګار یا فشار راوستل کیږي چې تاسې یې د پېرلو وس یا توان نلرئ. |
| د معلوماتو دوه رنګې یا ناسم معلومات. | تاسو باندې د داسې پور یا توکو د اخیستلو لپاره ټنیګار یا فشار راوستل کیږي چې تاسې یې د پېرلو وس یا توان نلرئ. |
| د سند یا لیکل شوي کاغذونو نه شتون. | سره لدې چې تاسو یې غوښتنه هم وکړئ خو هېڅوک په لیکلې بڼه معلومات نه درکوي. |
| د معلوماتو دوه رنګې یا ناسم معلومات. | هیڅوک نشي کولی چې د ټاکلو لګښتونو په هکله واضح معلومات درکړي، چې د څه یا کوم لګښت لپاره درڅخه اخیستل کیږي. |
| د لغو کولو یا واپس کولو مبهمه پالیسي. | د لغو کولو یا واپس کولو واضح تګلارې نشتون – تاسې دا فکر مه کوئ یا مه انګېرئ چې کولئ شئ یو محصول واپس یا اخیستلو څخه یې ډډه وکړئ. |
| د سود سلنه یا فیصدی په اړه دوه رنګې یا غیر واضح معلومات. | پلورنکې د سود د سلنې یا فیصدی په اړه یو ارقام درکړي، او په اسنادو کې هغه شمېرې خورا لوړې وي. |
| د پېر یا اخیستلو لپاره ټینګار. | کله چې کوم پلورونکئ درته وایې چې یو وړاندیز ژر ختمېږي او تاسې باید تر سبا انتظار ونکړئ ترڅو په اړه یې فکر وکړئ او تاسې د یوه ستر تکت یا توکي پېرلو ته اړ باسي، دلته باید تاسې شکمن شی. |
| امر کول او تحمیل کول . | کله چې کوم پلورونکئ درته وایې چې یو وړاندیز ژر ختمېږي او تاسې باید تر سبا انتظار ونکړئ ترڅو په اړه یې فکر وکړئ او تاسې د یوه ستر تکت یا توکي پېرلو ته اړ باسي، دلته باید تاسې شکمن شی. |
| د لفظي/ویل شوي او لیکل شوي معلوماتو تر منځ توپیـر. | هغه وعدې چې د پلورونکي شخص لخوا تاسو ته په شفاهي ډول درکړل شوي په کاغذونو یا آنلاین اسنادو کښې ذکر ندي او له تاسو څخه غوښتل کیږي چې لاسلیک پرې وکړئ. |
| په وړو ټکو لیکل شوي غیر واضح تشریحات. | یو ساده قاعده دا ده چې کله هم په یو څه باندې نه پوهیږئ مه یې لاسلیک کوی. |

| سرې یا د خطر نښې | وضاحت |
|---|---|
| په سندونو یا کاغذونو کې نیمګړتیا. | هیڅکله یو هوکړه لیک یا قرار داد چې پکښې خالي ځایونه وي او درته ویل کیږي چې دا به وروسته ډک شي مه لاسلیک کوی. |
| اضافي بیمې یا نور محصولاتو یا توکي. | بعضې پور ورکونکي کیدای شي د غیر ضروري محصولاتو لکه اضافي بیمه، غیر ضروري تضمین، او د څار خدمتونه او داسې نورو د اخیستلو لپاره ټینګار وکړي یا پور اخیستونکئ وهڅوي. دا ټول اضافي لګښتونه د پور په اندازه باندې اضافه کیږي او پور اخیستونکئ د پور د دورې په موده کښې د سود وکړې ته مجبور وي. |
| له وخت څخه مخکې د پور یا پیسو ادا کولو جریمه | له وخت څخه مخکې د پور یا پیسو ادا کولو جریمه هغه جریمې ته وایې چې کله پور اخیستونکئ وغواړي خپل پور له ټاکلې مودې څخه مخکې ادا کړي د پور ورکونکي لخوا دغې جریمې ورکولو ته اړ ایستل شي. |